ولي الله ملکزی ۱۸/۰۷/۲۰۲۳

# د افغانستان په لوی قاموس کې د تاریخپوه او څیړونکي، ډاکټر «لطیف یاد»، یادونه



له نن څخه څلور شپیته کاله وړاندې، یعنی د ۱۹۵۸م کال د اګست په ۱۷ تاریخ د همیشه بهار ننګرهار د چپرهار ولسوالی د دولتزیو په کلي کې یو ګلالي ماشوم وزیږید. ارواښاد پلار یې، استاد محمد طالب ورباندی د لطیف خالق د لطف په پار د عبداللطیف نوم کیښود. هیڅوک نه پوهیدل چې د حاجي ملا جان لمسی، د عبدالسمیع کروسی او د مومند آخوند زاده همدا کوډی به یوه ورځ د دغې عالمي کورنی د ویاړونو لامل ګرځي او خپلې ژبې او ټولنې ته به د لسګونو کتابونو او سلګونو څیړنیزو مقالو سوغاتونه وړاندې کوي. نیکونه او مشران یې چې د اسلامي علومو نومیالي پوهان وو، پخپلې سیمې او ولس کې د ډیر درناوي او ارادت څخه برخمند وو. پلار یې د افغانستان د عدلي محاکمو په بیلا بیلو برخو کې د پنځو لسیزو لپاره دنده درلودله چې په پوره امانت، مسلکیتوب او دینداری سره یې سرته رسولې ده. همدارنګه ارواښاد یوه موده د کابل په عربي دارالعلوم کې د تجوید او عربي ژبې استاد هم وو.

لومړنی او ثانوي زده کړې:

ښاغلی یاد د څلورو کلونو وو چې پلار یې ورته د قران کریم زده کړه پیل کړه. سربیره پردې چې د پښتو ژبې د کتابونو سره آشنا شو، د رحمان بابا دیوان به تل د دوئ په کور کې د تبرک په توګه ساتل کیده. د کوچنیوالي راهیسې، د علم او مطالعې سره یې مینه درلودله او د پښتو او پارسي ژبې د شاعرانو او لیکوالانو کتابونه او شعري دیوانونه به یې لوستل؛ البته تاریخي موضوعاتو ته یې ځانګړی تلوسه او شوق درلود. څرنګه چې پلار یې د افغانستان په ګڼ شمیر ولایتونو کې رسمي دنده اجراء کوله، نو خپلې لومړنی زده کړې یې په لاندینیو ښوونځیو او لیسو کې سرته رسولې دي.

۱- د هرات ولایت د سیفي هروي په لومړني ښوونځي کې.
۲- د ننګرهار ولایت د خوږیانیو ولسوالی د ملکیار هوتک لیسه کې.
۳- د ننګرهار ولایت د سره رود د میا فقیرالله جلال آبادي لیسه کې.
٤- د جلال آباد ښار د حضرت میاعمر څمکني ښوونځي کې.۵
۵- د کابل د رحمان بابا په لیسه کې.۶
۶- د لغمان ولایت د روښان په لیسه کې.

لوړې زده کړې:

دې تکړه لیکوال او تاریخپوه خپلې لوړې زده کړې د هندوستان په لاندینیو پوهنتونونو کې بشپړې کړې دي:

۱- لیسانس (BA) یې په ټولنیزو علومو کې د هند د پنجاب پوهنتون د چندیګر د ګورنمنټ کالج څخه اخیستی دی.
۲- ماستري (MA) یې په تاریخ کې د دهلي پوهنتون د ډاکټر ذاکر حسین د کالج څخه اخیستی ده.
۳- بله ماستري یې په فلسفې کې (MPhil) د هندوستان د دهلي پوهنتون څخه اخیستی ده.
۴- ډکتورا (PHD) یې د تاریخ په څانګه کې د دهلي د پوهنتون څخه ترلاسه کړې او د ډکتورا تیزس (علمي لیکنه)

يې د شير شاه سوري د ريفورمونو او اصلاحاتو په اړه ده.
**دندې:**
**۱- په ۱۳۵۸ لمريز کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز د ريسرچ د څانګې غړيتوب وو؛ په دغه موده کې يې ډير پښتو کتابونه ليکلي، ژباړلي او ايډيټ کړي دي. ۲- د يوې لنډې مودې لپاره، د هند د جواهر لال نهرو پوهنتون کې د پښتو په ډيپارټمنټ کې د پښتو ژبې تدريس او استاذي.**
**د ژبو سره اشنايي:**
**۱- پښتو يې مورنۍ ژبه ده چې ډيرې ليکنې يې پرې کړي او دغه لړۍ اوس هم روانه ده.**
**۲- په دري/ فارسي ژبې په بشپړ ډول پوهيږي او ليکنې هم پرې کوي.**
**۳- په اردو ژبې رواني خبرې کوي، لولي يې او ليکنې هم ورباندې کوي.**
**٤ – انګريزي؛ ټول لوړ تحصيلات يې په همدې ژبه کې کړي، پوره برلاسې او حاکم دی. همدارز په هندي، عربي او روسي ژبو دومره پوهيږي چې خپلې ستونزې ورباندې حل کولای شي.**
**په پښتو ژبې کې چاپ شوي کتابونه او مقالې:**
**۱- پښتنې قبيلې: دا کتاب د لرو او برو پښتنو د قبيلو او د دوئ د نسب شجره يوه پراخه څېړنه ده. په لومړي ځل کابل کې د اريانا مطبعې له خوا په ۱۳۷۹ لمريز کال کې چاپ شو، بيا کويټې او ورپسې پيښور کې د دانش خپرندوئ ټولنې خپور کړ. څه موده وروسته يې په دې هر اړخيز تحقيقي کتاب بيا کتنه وکړه او ډيرې برخې يې د کتابتون سايټ په فيسبوک، خيبر ډاټ اورګ سايټ، د بينوا ويبپاڼې او د ويکيپيډيا له خوا آنلاين شوې.**
**۲- خوشحال خان خټک: دا په اصل کې د اروابناد، دوست محمد خان کامل مومند له خوا په اردو ژبې ليکل شوی وو، بيا ده پښتو ته وژباړه. په کابل کې د اريانا مطبعې او پيښور کې د دانش خپرندوئ ټولنې له خوا په ۲۰۰٦م کال کې چاپ شوی دی.**
**۳- داودي تاريخ: نوموړی کتاب په هند کې د لودي او سوري او د بنګال د سيمې د کرلاني پښتنو واکمنانو تاريخ دی کوم چې له انګريزي څخه يې پښتو ته ژباړلی دی؛ اريانا او بيا دانش خپرندويئ ټولنې په ۲۰۰۷ زيږديز کال کې چاپ کړ.**
**٤- حيات افغاني: دا کتاب ۱۵۰ کاله وړاندې د انګريزانو د وخت پښتون مؤرخ، محمد حيات خان چې د بنو په سيمه کې د دوئ له خوا ډپټي کمشنر وو، له شهيد فرهاد ظريفي سره په ګډه د پښتنو تاريخ په اردو ژبې ليکلی دی. ډاکتر ياد هغه له اردو ژبې نه پښتو ته ژباړلی، اريانا او دانش خپرندويه ټولنې په ۲۰۰۷ زيږديز کال کې چاپ کړيدی.**
**۵- په هند کې پښتني رياستونه او نوابان: که څه هم د دې څېړنې يوه برخه په هندوستان کې د افغانستان د سفارت په اووه نيزې «ميزان» کې چاپ شويده؛ خو اوس غواړي چې هغه د يو جلا کتاب په توګه چاپ کړي.**
**ډاکټر لطيف ياد په هندوستان کې د ۱۷ کتابتونونو خطي نسخې چې په عربي او فارسي ژبو ليکل شوې وې؛ فهرستونه يې ترتيب او تنظيم کړي او ټول يې په ډهلي کې د « نور مايکرو فلم مرکز » له خوا چاپ شوي دي. نومونه يې په دې ډول دي: په ډهلي کې د انجمن ترقي اردو کتابتون، د ډهلي دهرديال کتابتون، د هند د جامعه مليه پوهنتون د ډاکټر ذاکر حسين کتابتون، د عليګړ پوهنتون د مولانا ازاد کتابتون. د ډهلي د پوهنتون کتابتون، د ډهلي د جامعه همدرد پوهنتون کتابتون، د حکيم سيد ظل الرحمن کتابتون، د ګجرات د درګاه عاليه چشتيه - احمد آباد کتابتون، د هند د ګجرات د درګاه عاليه مهدويه - پالنپور کتابتون.**
**د ډهلي د ايوان غالب کتابتون، د عليګړ د مزمل الله خان کتابتون، د لکهنو د ناصريه کتابتون، د حضرت پير محمد شاه د درګاه کتابتون، د راجا محمود اباد کتابتون، د هند د پنجاب ايالت د پټيالې ښار عمومي ارشيف، د ډهلي د مظهر جان جانان کتابتون او د ګجرات د احمد آباد ښار د درګاه پير محمد شاه کتابتون د فارسي او عربي خطي نسخو فهرستونه.**
**د پاسنيو سترو ادبي او علمي خدمتونو ترڅنګ، د دې ښاغلي څېړونکي ګڼ شمير پښتو او دري مقالې د افغانستان د انيس او هيواد په ورځپاڼو، د زيرې په اووه نيزې، د ژوندون، کابل، جرګې او الفت په مجلو او د هندوستان د قومي آواز په ورځپاڼې، ټونک، قند پارسي مجلې او د ډهلي پوهنتون د فارسي ډيپارټمنت په تحقيقاتي فارسي مجلې کې چاپ شويدي.**
**نا چاپه کتابونه:**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۱- حیات حافظ رحمت خان: په هند کې د پښتون نواب، حافظ الملک نواب خان بریڅ د ژوند او کارنامو په اړوند په اردو ژبه لیکل شوی او ده پښتو ته ژباړلی دی .
۲- شیر شاه او د هغه عصر: دا کتاب، کالک آرنجن کننګو لیکلی، ده له اردو نه پښتو ته اړولی چیرته چې د شیر شاه سوري اړوند ګټور معلومات په کې راغونډ شویدي .
۳- افسانه شاهان یا تاریخ افغاني: لیکوال یې د مغولي واکمن جهانګیر د وخت مؤرخ، محمد کبیر دی. د هند د لودي، سوري او د بنګال د کرلاني پښتنو په اړوند ګټور معلومات په کې دي. د کتاب اصلي نسخه د لندن په برټش موزیم کې خوندي ده، خو ده د مایکرو فیلم له مخې ژباړلی ده.
٤- تاریخ شاهي یا تاریخ سلاطین افاغنه: لیکوال یې پښتون مؤرخ، احمد یاد ګار نومیږي چې د لودي او سوري پښتنو اړوند په زړه پورې معلومات یې را ټول کړي او پښتو ته یې ژباړلي. همدا کتاب اوس بل چا پښتو ته ژباړلی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی.
٥- شرح احوال و اثار تاریخي علامه عبدالحی حبیبي په دري/ فارسي ژبه.
٦- هندواېزم (هندومت) یو تحقیقي اثر دی چې همدا اوس یې ٦٥ برخې د کابل نات په سایټ کې خپرې شوي او دا لړۍ روانه ده .
۷- د هند د ستر اسلامي شخصیت علامه مولانا علي میا د کتاب، المرتضی د دوو ټپرکو ژباړه.
۸- د ملا نصرالدین ټوکې ټکالې: ده په خپل فیسبوک پاڼې خپرې کړېدي، خو په کتابي بڼې لاچاپ شوی نه دي.
۹- سکهان او د دوئ مذهبي لاربښوونکي: دا د سکهانو د لسو ګوروګانو (مذهبي لاربښوونکو) تاریخ دی چې له ګورو نانک نه پیل شوی او د ګورو ګوبند سینګ پر حالاتو پای ته رسیدلی دی.
۱۰- پښتو ویي: د پښتو لغاتونو لړۍ ده، اتیا برخې لري او د فیسبوک په پاڼې کې خپرې شویدي.
۱۱- د هند بیلا بیلو ایالتونو ته یونلیکونه / سفر نامې.
۱۲- کشمیر، د درانیانو د امپراتورۍ په وخت کې. په عین حال کې د ډاکټر یاد په فیسبوک او ویبپاڼه کې خپرې شوې مقالې او څېړنې چې شمیر یې سوونو ته رسیږي.
پر کتابونو سریزې او تفریظونه:
په ډیرو تحقیقي کتابونو او شعري ټولګو باندې سریزې او تقریظونه لیکلي چې د ځینو نومونه په لاندې ډول دي:
۱- (زموږ د هیواد سیمې او څیرې) ښاغلي داد محمد راسا لیکلی دی.
۲- (د ملیار ګلونه) د هیواد د پیژندل شوي شاعر، ښاغلي عبدالحفیظ ملیار شعري ټولګه.
۳- (د بریالي ژوند ۲۶۹ رازونه) د ښاغلي محمد عزیز پردیس لیکنه.
۴- (د پښتنو د شجرو تاریخي ریښه) د ښاغلي زمري محقق تالیف.
۵- (خپل اتلان وپیژنئ!) د کوزې پښتونخوا د لیکوال او څیړونکي، ښاغلي ډاکټر ایاز ایسپزي/ یوسفزي کتاب.
۶- (د مارشال شاه ولي خان یادښتونه) د ښاغلي داود افغان پښتو ژباړه.
۷- (غږیدلې پاڼې) د ښاغلي ساجد احمدزي د غزلونو ټولګه.
۸- (رڼا د قلم) د کوزې پښتونخوا د شاعر او لیکوال، ښاغلي سیماب وزیر کتاب.
۹- (د نړیوالو اړیکو اصول) د ښاغلو عبدالمقیم علیزي او محراب الدین واکمن په ګډه لیکلی کتاب.
۱۰- (د افغان واکمنانو کرونولوژیک تاریخ) د ښاغلي داود افغان تالیف.
۱۱- (صولت شیر شاهي) د شهید فرهاد ظریفي ژباړل شوی کتاب.
۱۲- (اکبر سیال، شاعري او شخصیت) د کوزې پښتونخوا د لیکوال او شاعر، ښاغلي علي اکبر سیال کتاب.
۱۳- (ژوند زده کړه) د ښاغلي حبیب الله حبیب منګل اثر.
۱۴- (د سیاسي افکارو تاریخ) د ښاغلي اسدالله الفت لیکنه.
۱۵- (د ډیورنډ د ټپل شوې او کرغیرنې کرښې په هکله) د ښاغلي متقاعد تورن جنرال، دولت وزیري کتاب.
۱۶- (تصوف، روحانیت او کړلیچونه) د ښاغلي ولي الله ملکزي کتاب.
۱۷- د هند د ګجرات د بروډا پوهنتون د مهاراجا سیاجي د کالج د عربي او فارسي ژبو استاد ښاغلي ډاکټر وجیه الدین کتاب چې غزلیات نا شناخته جلال اسیر اصفهاني نومیږي، ایډیټ کړیدي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**بهرنيو هيوادونو ته سفرونه:**
**ډاکټر لطيف ياد ګڼ شمير هيوادونو ته د علمي څيړنو، لرغونو آثارو د ليدلو او تفريح لپاره سفرونه کړي چې په هغو کې هندوستان، پاکستان، ازبکستان، تاجکستان، تايلينډ، روسيه، هنګري، پولينډ او سينګاپور شامل دي.**
**په علمي غونډو او سمينارونو کې ګډون: د افغانستان او هندوستان په لاندينيو سمينارونو او علمي کنفرانسونو کې يې ګډون کړی؛ هلته يې تحقيقي مقالي وړاندې کړی او په مباحثو کې يې خپل نظر څرګند او شريک کړيدی.**
**١ په کابل کې د خوشحال خان خټک نړيوال سمينار.**
**٢- په کابل کې د زرغونې ياد سمينار.**
**٣- په کابل کې د راحت زاخيلي سمينار.**
**٤- په کابل کې د باچا خان د لومړي تلين نړيوال سمينار.**
**٥- په کابل کې د شير شاه سوري نړيوال سمينار.**
**٦- په هند کې د شير شاه سوري نړيوال سمينار.**
**٧- د هند د راجستهان په ټونک کې د فارسي/عربي خطي نسخو سمينار.**
**٨- د هند د پنجاب په پټياله کې د پنجابي مؤرخينو سمينار.**
**٩- د لويديزې استراليا د پوهنتون په هغه سمينار کې ګډون چې د افغانستان په اړه جوړ شوی وو.**
**د يادونې ده چې ښاغلی ډاکټر لطيف ياد د ٢٠٠٢ زيږديز کال راهيسې د لويديزې آسټراليا ايالت مرکز، د پرت په ښار کې د خپلې کورنۍ سره اوسيږي. د کدوالی په چاپيريال کې څيړنيز فعاليت کوي، د نوي کول د تعليمي بهير او کلتوري پوهاوي په برخې کې منډې ترړې وهي او له وطن څخه د تازه راغلو هيواد والو سره د مرستو لپاره هلې ځلې کوي.**

**ژوند يې له خوندونو، قلم يې له رنګونو او ذهن يې له رنګينو خيالونو ډک**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ